

PS

# د ګوتو چاپونه او یوروډاک

د دریم هیواد د هغو اتباعو یا بې وطنه اشخاصو لپاره معلومات چې
په یوه غړي هیواد کې په غیر قانوني توګه اوسیدلې دي، د (EU) د
2013/603 مقررې د (3)29مادې سره سم

که چیرته ومونـدل شي چـې تاسـو پـه یـوه ‹ډوبلیـن› هیـواد کـې پـه غیرقانـوني توګـه اوسیږئ[1]، مسـولین کـولای شي ستاسـو د ګوتـې نښـې ثبـت کـړي او د «یـوروډاک» پـه نـوم د ګوتـو د نښـو د ثبتولـو ډیټابیـس تـه یـې ولیـږدوي. د دې موخـه یواځـې دا ده چـې وکتـلای شي چـې تاسـو پـه تیـر وخـت کـې د پنـاه اخیسـتلو لپـاره غوښـتنه درلـوده او کـه نـه. ستاسـو د ګوتـې د نښـې اسـناد بـه د یـوروډاک پـه ډیټابیـس کـې نـه ثبتیـږي، خـو کـه مـو چیرتـه مخکـې پـه کـوم بـل هیـواد کـې د پنـاه اخیسـتلو غوښـتنه کـړې وي، تاسـو کیـدای شي بیرتـه هغـه هیـواد تـه ولیـږدول شئ.

کـه چیرتـه ستاسـو د ګوتـې نښـې روښـانه کیفیـت ونلـري یـا تاسـو پـه قصـدي توګـه خپلـو ګوتـو تـه صدمـه رسـولې وي، نـو ستاسـو د ګوتـې نښـې بـه پـه راتلونکـې وختونـو کـې واخیسـتل شي.

یـوروډاک د اروپایـي اتحادیـې د یـوې ادارې لـه خـوا چـې eu-LISA بلـل کیـږي، پـه مـخ بیـول کیـږي. ستاسـو اسـناد یواځـې هغـو مـواردو کـې کارول کیـږي چـې د قانـون لـه خـوا معیـن شـویدي. ستاسـو اسـناد بـه یواځـې د یـوروډاک مرکـزي سیسـتم تـه داخلیـږي. کـه چیرتـه تاسـو پـه راتلونکـې کـې د ډوبلیـن پـه کـوم بـل هیـواد کـې د پنـاه غوښـتنه کـوئ، یـوروډاک تـه د ثبتولـو پـه خاطـر بـه ستاسـو د ګوتـې نښـه هـم واخیسـتلای شي. پـه یـوروډاک کـې ثبـت شـوي اسـناد بـه لـه EU او ورسره ګـډو هیوادونـو پرتـه لـه بـل هیـڅ ادارې یـا هیـواد سره نـه شریکیـږي.

---

1) دا د اروپایـي اتحادیـې پـه کچـه پراختیـا لـري (اسـتریا، بلجیـم، بلغاریـا، کروسـیا، قـبرس، چـک جمهوریـت، دنمـارک، اسـتونیا، فنلنـد، فرانسـه، جرمنـي، یونـان، هنګـری، ایرلیند،ایټالیـا، لتویـا، لیتوانیـا، لوکزامبـورګ، مالتـا، نیدرلنـډ، پولنـډ، پورتـګال، رومانیا، سـلواکیا، سـلووانیا، هسـپانیه، سـویډن) همـدا شـان د ډبلیـن هیوادونـو 4 متعهـد هیوادونـه هـم شـامل دي (نـاروې، آیسـلینډ، سـویتزرلینډ او لیخـتن شـتاین) دي.

© د اروپا اتحادیه 2014
بیاتولید یې مجوز دی. د هرډول کاروونې یا انفرادي عکس (کاپي) تولید لپاره اجازه باید د کاپي حق لرونکو لخوا په مستقیم لیکلې بڼه واخیستل شي.



# د اړیکو معلومات

**د Eurodac کنټرولر او د دوی استازی**
د اړیکې ټکي: د ملي پولیسو بورډ
او د فنلنډ د مهاجرت خدمتونه

**د کنټرولر دفتر د اړیکو توضیحات**
د ملي پولیسو بورډ
Poliisihallitus
PL 1000 (Vuorimiehentie 3),
02151 Espoo
+358 295 480 181
kirjaamo.poliisihallitus@poliisi.fi

د فنلنډ د مهاجرت خدمتونه
Maahanmuuttovirasto
PL 10, 00086
تیلیفون. 431 430 295 358+ (سوېچبورډ)
migri@migri.fi www.migri.fi

که غواړئ Eurodac کې ستاسې په اړه ثبت شوي ډېټا ته لاس رسی ولرئ، د پولیسو حوزه کې یې شخصي غوښتنه کولی شئ. خپل هویت وړاندې کولو لپاره چمتو واوسئ. زموږ سپارښتنه دا ده چې د پولیسو هغه حوزې سره اړیکه ونیسئ چېرې چې مو خپل د پناه غوښتنې غوښتنلیک سپارلی دی. د پولیسو د حوزې د اړیکې تفصیلات د پولیسو وېب پاڼې کې موندلی شئ، poliisi.fi.

**د معلوماتو د ساتنې ملي ادارې د اړیکو توضیحات**
د ډېټا خوندیتوب دفتر څېړونکی
Tietosuojavaltuutetun toimisto
د مراجعې ادرس: Lintulahdenkuja 4,
00530 Helsinki
پست ادرس:
PL 800, 00531 Helsinki
سوېچبورډ: 6700 566 29 358+
د شخصي کسانو لپاره تیلیفون لارښود:
+358 29 566 6777
سه شنبه–پنجشنبه 9.00–11.00
tietosuoja@om.fi
www.tietosuoja.fi

**کـه چیرتـه زمونـږ مسـولین داسـې ملاحظـات ولـري چـې لـه مخـه یـې پـه یـوه بـل داسـې هیـواد کـې ستاسـو د نړیوالـې سـاتنې غوښـتنلیک تـر پوښـتنې لانـدې راشي کـوم چـې ستاسـو د غوښـتنلیک د ارزونـې مسـولیت لـري، تاسـو بـه ډیـر مفصـل معلومـات د هغـه پروسـیژر پـه اړه چـې تعقیبـول یـې اړیـن دي، تـر لاسـه کـړئ او پـه دې بـه هـم پـوه شئ چـې دا څنګـه ستاسـو پـر حقونـو اغیـز درلـودلای شي .**



24.11.2023 - pashto

euaa
EUROPEAN UNION
AGENCY FOR ASYLUM

European
Commission

Rajavartiolaitos
Gränsbevakningsväsendet
The Finnish Border Guard

POLIISI
POLISEN I FINLAND
Police of Finland

Maahanmuuttovirasto
Migrationsverket
Finnish Immigration Service